# The meaning and background of Realism, a global literary movement

# د نړیوال ادبي تحریک "حقیقت نګاري" مفهوم او پېژندګلو

**By: Atta ur Rahman**★

## Abstract:

Realism is a colossal literary movement that exercises seismic impact on world literature. The Post World War II literature, specifically the French witnessed a marked interest in the depiction of the wretched state of the marginalized and deprived classes of the contemporary society. Thus, then onward, literature began to spotlight the real events of ordinary life instead of portraying the idealized worlds of imagination. In fact, it was a strong reaction to counter the extravagances of the Romantic Movement. As said earlier, Realism strongly advocated the delineation of the real and mundane life; thus leaving no space for the ideal and unreal. It stressed that instead of obliterating human experiences in the haze of the dead past, literature must solely devote itself to the representation of the present and the now – the real and actual. Like other great literary movements, Realism too has its origins in the fertile French soil. Balzac and Flaubert are considered –and rightly-the pioneers of Realism in France. Other prominent realists who have substantially contributed to Realism are Maxim Gorky and Vladimir Dostoevsky in Russia, Hermann Hesse and Franz Kafka in Germany and Milan Kundera in Czech Republic. In contemporary times, George Lucas is a frontline realist. This research presents the definition and historical background of Realism to see how it influenced world literature in the Post World War II scenario.

**Keywords:** Realism, realist, literary movement, world literature, Balzac, Flaubert, Romantic Movement

د حقیقت پسندۍ یا حقیقت نګارۍ د اصطلاح د پاره د انګرېزۍ ژبې اصطلاح (Realism) مستعمل ده. دغه مرکبه کلمهٔ دوؤ کلمو "Real" او "Ism" نه جوړه ده. د انګرېزۍ ژبې په ډکشنرۍ (Oxford Dictionary) کښې د دې لفظ معانې څهٔ داسې ورکړې

★ Assistant Professor, Department of Pashto , Jahan Zaib College Swat

شوي دي:

1: "Realism scholastic doctrine that universal or general ideas have objective existence, belief that matter as object of perception has real existence".
2: Practice of regarding thinks in their true nature and dealing with them as they are fiddity of representation rendering precise details of real thing or sconce. (Realist) noun realistic (Ad) realistically (adv.) "۱

همدا رنګ په "The Cambridge Encyclopedia" کښې د لفظ "Realism" په حواله داسې ليکلي شوي دي.

1: "Realism(Philosophy)the philosophical doctrine held by Aristotle, Descartes, lock and others that whatever exists has its character independently of its being perceived by human or divine minds, opposed to verificationism and some version of idealism and phenomenalism.
2: A theory about universal, held by Plato, which maintains that properties such as redness exist outside the mind, oppose to nominalism and conceptualism.
3: The philosophical thesis that scientific theories aim or should aim to depict the way the physical world really is opposed to instrumentalism, conceptualism idealism nominalism, phenomenalism, verificationism. "

په "The Encyclopedia Britannica" کښې د حقيقت نګارۍ تعريف په دې الفاظو کښې ليکلې شوے دے.

"Understood in its broadest philosophical sense, realism can note any viewpoint that accords to the objects of man's knowledge in existence that is independent of whether he is perceiving or thinking about them. Though it may seem strange to the un philosophical layman that the independent existence of objects " out there" should be questioned, the philosopher, faced with many proformd challenges that idealist have posed against the independence of objects, knows that the problem is far from trivial" ۲

د حقيقت نګارۍ په باره کښې "The Encyclopedia of Philosophy" داسې ليکي:

" In the early history of Philosophy, particularly in medieval thought, the term "realism" was used in opposition to nominalism, for the doctrine that universals have a real, objective existence, in modern philosophy, however, it is used for the view that material objects exist externally to us and independently for our senses

experience. Realism is thus opposed to idealism, which hold that no such material objects or external realities exist apart from our knowledge or consciousness of them, the where universe thus being independent on the mind or in some sense mental. It also clashes with pheomenlism, which, while avoiding much idealist metaphysics, deeny that material objects would exist except as groups of sequences of sensa, actual and possible. "۳

په کشاف تنقيدي اصطلاحات کښې د حقيقت نګارۍ مفهوم څۀ په دې ډول شوے دے :

"ادب میں اشیاء، اشخاص اور واقعات کو کسی قسم کے تعصب، عنیت اور رومانیت سے آلودہ کئے بغیر دیانت و صداقت کے ساتھ پیش کرنے کی کوشش حقیقت پسندی یا حقیقت نگاری کہلاتی ہے باالفاظ دیگر حقیقت پسندی یا حقیقت نگاری کے معنیٰ ہیں خارجی حقایق (مثلاً سماجی زندگی اور اس کے مسائل کو حتی المقدور معروضیت کے ساتھ پیش کرنا، کسی خیالی یا مثالی دنیا کی بجائے ہست کی تصویر کشی، حقیقت پسند ادب تخیل پر امر واقعہ کو ترجیح دیتا ہے۔ ماضی کی بجائے حال کے مسائل اور معاملات کو اہم جانتا ہے چونکہ زندگی کی موضوعی تصویر کشی اس کا مقصود ہے، اس لیے وہ اپنی ذات کو ادب پارے میں نمایاں کرنے سے اجتناب کرتا ہے۔ وہ زندگی کے ایسے کراہت انگیز کوائف و مظاہر کو بھی موضوع بناتا ہے جن کا وجود مسّلم ہوتا ہے۔ مگر "نفاست پسند" ادیب انہیں قابل اعتنا نہیں جانتے، وہ زندگی کو رنگین شیشوں میں سے دیکھنے کی بجائے اپنی ننگی آنکھ سے دیکھتا ہے اور اس کی کوشش ہوتی ہے کہ اسے جوں کا توں پیش کردے" ۴

دغه رنګ په انګريزۍ وېب پاڼه د حقيقت نګارۍ د مفهوم په حواله داسې ليکلے شوي دي:

"Realism is the art, the accurate detailed, unembellished of nature or of contemporary life. Realism rejects imaginative idealization in favor of a close observation of outward appearances" ۵

Andrazej Gasiorek" د حقيقت نګارۍ تعريف داسې کوي:

" Realism, I have argued , is best seen as an open-ended concept, it gives rise to different narration modes, which derive from author's particular projects, aesthetics and political conversations, and changing socio, historical contexts" ۶

دغه شان " Davide lodge": ليکي

"Realism is not an object, to be identified, pinned down, and appropriated. It is rather, a way of describing certain methods and attitudes, and the descriptions, quite naturally, have varied in the ordinary exchange and development of experience" ۷

داسې د حقيقت نګارۍ په باره کښې پروفيسر (Kohn ley) ليکي:

"Realism is the creation of the effect of the representation of the

concrete, historical nature of human life” ۸

د"حقیقت" لفظ په خپله په مختلفو وختونو کښې په مختلفو معنو کښې استعمال شوے دے. په یونان کښې د افلاطون او د هغهٔ د هم خیالو دا خیال وۀ چې په دنیا کښې موجود څیزونه حقیقت نهٔ لري .د هغوي په خیال د څیزونو حقیقت د څیزونو سره نهٔ دي د هغوي د عېن د څیزونو حقیقت دے. دا افلاطون دا خیال وۀ چې عالم وجود صرف د اعیانو نقل دے. په دنیا کښې موجود اشیاء چې هر وخت د بدلېږي حقیقت نهٔ شي کېدے. حقیقت پکار ده چې تل یو شان وي. هغوي چې د حقیقت کوم تصور رامخې ته کړو نو د هغې په نزد حقیقت په وجود کښې نهٔ بلکې د اشیاؤ په خیال کښې وي. مونږ په نورو ټکیو کښې داسې وئیلے شو چې د افلاطون په نزد حقیقت هم دغه دے کوم چې عین دے .

په ادب کښې د حقیقت د پېشکش غوښتنه هم د هر چا نه اول افلاطون کړې ده. خواؤشا د حقیقت هم دغه تعریف د قرون وسطی یورپ هم دغه رنګ په ځاے پاتې شو او حقیقت د الله تعالیٰ سره منسوب شو مراد دا دے چې اصلي حقیقت د الله تعالیٰ ذات دے او عالم وجود هغه ذات عکس دے. د نشاۀ ثانیه نه پس په یورپ کښې د حقیقت تعریفونه بدل شوي رابدل شوي دي چې غټ وجوهات ئې د سائنس او فلسفې نظرئې پاتې شوي دي. هم دغه نظریات وو چې د حقیقت تصورات ئې د ځان سره موافق کړي هم دي او وران کړي ئې هم دي.

په ولسمه عیسوی کښې بېکن ووئیلي وو چې " انجیل" د خالق حقیقي وېنا او فطرت د هغهٔ عمل دے. دغه رنګ فطرت او کائنات ته د حقیقت درجه ورکړے شوه او د کائناتو مطالعه هم د تقدس په زمره کښې راداخله شوه. په مېنځنو زمانو کښې چې د کلیسا اثر رسوخ سېوا شونو صرف د مذهب او دینیاتو علم ته اصل علم نوم ورکړے شو ځکه چې د هغوي په خیال هم دا د حقیقت د پېژندو زریعه وه خو په ولسمه صدی کښې د کائناتو مطالعه د حقیقت د پېژندو د پاره لازمي وګرځولے شوه او دغه رنګ د سائنس د پرمختګ د پاره یو فلسفیانه بنیاد پېدا کړے شو.

په اتلسمه صدی کښې حقیقت د افلاطونیت د تصور نه لرې ازاد شو او معروضي دنیا ته راغے. په دې زمانه کښې د خداے د ذات تصور هم داسې بدل شان شو چې لکه یو انځور د انځورګر د ذات نه بغېر په وجود کښې نهٔ شي راتلے نو دغه رنګ دا دومره پراخه کائنات به د الله تعالیٰ او خالق د وجود نه بغېر څنګه پېدا شوے وي. دا هغه زمانه وه چې

په دنیا کښې د "نیوټن" قوانینو ته هم د حقیقت درجه تر لاسه شوې شوې وه. په شلمه صدۍ کښې د "ائن سټائن" د افاقیت نظرئې په عام کېدو حقیقت یو رنګ شے پاتې نۀ شو او اضافي شے وګرځولے شو. دغه رنګ مونږ دا وئیلے شو چې په یورپ کښې د لرغونو وختونو نه راوخله تر ننه پورې د حقیقت تصور کښې په لویه کچه بدلون راغلے دے.

په لرغونو دورونو کښې ادب، بت تراشي، مجسمه سازي، موسیقي او د ودانۍ هنرونه ټول په دبره طبقې د وګړیو په لاس کښې وو او د دغه دورنو تخلیقکارانو او هنرمندانو به دغه یو اځینے فرض پوره کولو چې د دغې طبقې واکمني او د محکومو طبقو د کمزورۍ او کمترۍ احساس ژوندے وساتي. په دې خبره هڅه و چا فکر نۀ وۀ کړے چې د غریب او کمزوري اولس په ژوند کښې هم څۀ خوبي اوغوره څیزونه راپېدا کېدے شي. په دغه وختونو کښې چې دنیا ته د فن او ادب په مبدان کښې څۀ هم راغلي دي زیات تره د حقیقت نه ډېر لرې او د وهمونو پېداوار لګي، چې په کښې د فرښتو، شېطانانو، خدایانو او ولیانو ترجماني شوې ده خو د عاموانسانانو نۀ.

دغه لړۍ دنړیوالو ادبیاتو په وړومبو دورونو کښې هم مونږ ته ددېوانو، د جادو او سحر د زور، د ښاپېرو او بلاګانو په شکل کښې په نظر راځي او دغه رنګ کردارونه هر هغۀ څۀ کوي چې دانسان او انسانیت د صلاحیت نه ډېر لرې او ډېر بره وي. د موجوده دور انسان دغه شان قصې نۀ خوښوي او نۀ پرې باور لري. اګر چې نن هم په انسان دروغ اثر کوي خو صرف دومره چې هغۀ ته معلومه وي چې دا رښتیا خو نۀ دي خو ورسره دافکر هم م کوي چې دا خو دروغ هم نۀ شي کېدے. د موجوده دور انسان ته د داسې قیصو ضرورت دے چې نیم رښتیا خو وي.

دغه رنګ د نن سبا مصوّري هم ده.ارټ او ادب چې د پرمختګ کوم سفر وکړو نو د تخیلاتي قصو او داستانونو نه ئې د حقیقت او فطرت اړخ ته مراجعت وکړو.د پخوانیو دورنو فن او ادب چې د عام اولس یا عام انساني ژوند ترجمان نۀ وۀ. د عامو خلقو د پارۀ څۀ خاص شے نۀ وۀ. په دې حواله نیاز فتح پوري داسې لیکي:

"دنیا اب اخلاق کے مواعظ سے تنگ آچکی ہے اور اب آسے حقائق کی ضرورت ہے آب وہ گوشت پوست کی انسانوں کی بات کرنا چاہتی ہے وہ زندگی کے حسن کو دیکھنا چاہتی ہے اور اس کے عیب کو بھی"۹

د ۱۷۹۰ء د فرانس د انقلاب په راتګ انسان د ژوند د ترخو حقیقتونو سره اشنا شو

. د ازادۍ، ورورولۍ او مساواتو نعره پورته شوه. د مساواتو نه مراد فقط جسماني او مالي مساوات نۀ وو بلکې مطلب ئې يو جامع مشاوات وو او هم دې نعرې د انسان د درجه بندۍ په ضد مبارزې ته لاره هواره کړه.

د شلمې صدۍ نه اول د حقيقت نگارۍ په ارتقاء کښې څۀ نور محرکات هم شامل دي چې په کښې د کائنات او هيگل نظرياتو هم بنيادي کردار لوبولے دے.

د کائنات په خيال د مخلوق د پېدائش نه د فطرت مطلب دا دے چې د هغوي وجود دې پاتې شي او د هغوي صلاحيتونه دې کمال تر لاسه کړي. فطرت گيا د دې د پاره نۀ دي پېدا کړې چې ځناور ئې وخوري يا ځناور دې بيا انسان وخوري بلکې گيا د دې د پاره پېدا ده چې گيا پکار ده. هغۀ په دې داسې رڼا اچوي:

> "انسان کا جوہر جو اس کی عقل و فہم اور ادراک ہے، فطرت نے انسان کو اس لئے پیدا کیا ہے کہ وہ عقل و فہم کا پابند رہے۔ عقل و فہم اور ادراک کی یہ خصوصیت ھے کہ وہ انسانی زندگی میں تکمیل کو نہیں پہنچتی۔ مثلاً ایک آدمی تمام علم ریاضی تخلیق نہیں کر سکتا بلکہ وہ اس علم سے فائدہ اٹھاتا ہے جو اس سے پہلے لوگ چھوڑ گئے ہیں اس لئے انسانی عقل و فہم کا نشو ونما انفرادی زندگی میں نہیں بلکہ تاریخی عمل میں پورا ہوتا ہے۔ انسان چونکہ عقل و فہم کا مالک ہے اس لیے اس کی صلاحیتیں بروئے کار لانے کے لئے تاریخی عمل ضروری ہے یہ تاریخی عمل ادراک کو ترقی دیتا ہے اس لئے انسانی تاریخ عقل و فہم وادراک کی تاریخ ہے"۱۰

د دې نه علاوه په دې حواله د اول او دويم نړيوالو جنگونو د مېنځ دور ډېر اهم دے. وړومبي نړيوال جنگ د ژوند پخوانے شکل او بنيادونه گډ وډ کړل. گڼو ناروغيو، قحطونو، غربت او ستونزو د انساني ژوند مخه وکړه او د ردعمل په توگه چې کوم تحريکونه مخې ته راغلل په هغوي کښې ځپلي انساني ژوند ته زيات ه پاملرنه وشوه. دا هغه زمانه وه چې سائنس د انسان ژوند او دنيا ته نوے رنگ ورکړو. او پاخۀ حقيقتونه په امکاناتو بدل شو. د "ائن سټائن "نظرياتو د" نيوټن" د نظرياتو په ضد خبره وکړه او دغه رنگ د فرائيډ د "لا شعور" او "جنس" نظريه ورو ورو د بحث په ضد کښې راغله.د دغه دواړو جنگونو په نتيجه کښې د انسان په عقل پرستۍ هم او په انسانيت هم باور کمزورے شو.د صنعتي ترقۍ دور شروع شو چې په اوله کښې يوه غېر واضحه او کړکېچنه ټولنه په وجود کښې راغله. په دې دور کښې د سوب او عمل نورې رشتې مخې ته راغلې او دا عقيده جوړه شوه چې د يو عمل يوه وجه او محرک نۀ وي. دغه شان يو پيچيده او همه

جهت تصور په وجود کښې راغلو. په دې دور کښې د ليکوال د پاره د خپل چاپېر چل ښېخي ساده تصوير جوړول پوره نۀ وو ځکه چې اوس ليکوال په دې پوهه وۀ چې د حقيقت صرف ښکاره شکل م نۀ وي بلکې حقيقت په ډېرو پردو کښې پټ وي چې د پلټلو د پاره به ئې دغه پردې د هغۀ د مخ نه :لرې کول په کار وي.

د ځينې نورو علمي او ادبي تحريکونو په شان د"حقيقت نګارۍ" اغاز هم د فرانس نه شوے دے او په عمومي توګه دا خبره منلے شوې ده چې د فرانس د انقلاب نه پس حقيقت نګارۍ د باقاعده مکتبه فکر په شکل کښې مخې ته راغله. په نفسياتي حواله د فرائيډ نظرياتو ادب ډېر متاثره کړو . د هغۀ دې نظرئې چې انسان د شعور په ځائے د لاشعور د اثر لاندې زيات وي نوي نوي بحثونه او نظرونه رامخې ته کړل. په خپله لا شعور هم يو پېچلے څيز دے چې د فرائيډ په نزد د پوهېدو د پاره ئې پېژندل او تعريف مهم دے. فرائيډ په خپله "تعبير خواب " کښې د لاشعور تعريف په دې ډول کړے دے.

"لاشعور ھی نفس ہے لیکن اس کی صحیح ماہئیت اور فطری خصوصیات سے ہم خارجی دنیا کی مانند ناآشنا رہے ہیں۔لاشعور کے بارے میں ہمیں شعور جو کچھ بتاتا ہے وہ خارجی دنیا کے بارے میں حواس خمسہ سے اخذ شدہ معلومات کی مانند نامکمل ہوتا ہے"۔۱۱

هم دا رنګ چې فرائيډ کله د نفسي تحليل نظريه پېش کړه نو يو نوے بدلون راغلو. "تحت الشعور" او "لا شعور" ته د شعور نه ډېر سېوا اهميت ورکړے شو او دا خبره تسليم شوه چې د تهذيب اندازه صرف د يو دور د ظاهري او شعوري زاويو نه نۀ شي کېدے بلکې دا به زياته مناسبه وي چې دغه زمانې ته د لاشعور د زاوئې نه هم رسائي وشي. د فرائيډ په خيال زمونږ مختلف شعوري مظهرونه د غېر شعوري عواملونه اثر اخلي او په تخليقي عمل کښې د شعوري قوتونو نه زيات غېر شعوري قوتونه کردار لوبوي. د فرائيډ په خيال د انسان جبلوتونو ته د ظاهري تهذيب او عملي ژوند اصول، مذهب او رسمونه رواجونه، معاشرتي او نور عوامل روکاوټونه پېدا کوي او د انسان شخصيت د دغې قدغنونو او پابندو په سوب د مختلفو ناروغيو ښکار شي او وران شي.

د فرائيډ شاګردانو "ژونګ"او"ايډلر" د خپل استاد په نظرياتو کښې نوره اضافه هم وکړه او د ذاتي لا شعور نه علاوه ئې د اجتماعي لا شعور نظريه هم پېش کړه. "ژونګ" انفرادي کېفيت له د اجتماعي کېفيت شکل ورکړو. د "ايډلر" په خيال د انسان د نفسياتي کشمکش وجه دا ده

چې هغهٔ د طبعي قوتونو په مخکښې د ناتوانۍ د احساس ښکار شي او د کمترۍ د احساس کندو ته پرېوځي. د کمترۍ د دغه احساس نه انسان وتل غواړي خو چې کامياب نهٔ شي نو هغهٔ د خيالونو په دنيا کښې ورک شي چرته چې هر څهٔ د هغهٔ په لاس کښې وي.

د فرائېډ، ژونګ او ايډلر نظريات په ادب کښې ډېر اهميت لري. دې نظرياتو تخليقکارو ته د ژوند د حقيقتونو وښودل او ورسرئې د نوؤ څيزونو د په کارولو جواز هم پېدا کړو.

په فلسفه کښې "کارل مارکس" او "فريډرک اينګلز" معاشي او معاشرتي فلسفه شامله کړه. مارکس د جرمني د فلسفي هيګل د جدلياتو فلسفه د عېنيت د حدودو نه رابهر کړه او د مادي ژوند پولو ته داخله کړه. ځکه خو هغهٔ ښکاره وائې چې د هيګل جدليات په سر ولاړ وو ما په پښو ودورل. هيګل ارټ د تفهيم يو نامکمل شکل ګڼي او فلسفې د ارټ نه غوره وائي. دغه رنګ هغهٔ د دې خلاف د مارکس، شيلے او ګويټے په شان جمالياتي سرګرمۍ د انسان د حواسو د روزنې د پاره اهمې ګڼي. هغهٔ د هيګل سره اختلاف کوي او وائې چې ارټ د تصوير نهٔ کم ګڼل د مادې نه بېخي سترګې پټوي. هغهٔ وائې چې باجا غږونکے زمونږ د دغه حس تسلي نهٔ کوي بلکې د دغې حس په زېږون او روزنه کښې هم مهم کردار لوبوي. دغه رنګ پېدا او ار زمونږ ضرورت يو اځې نهٔ پوره کوي بلکې نور ضرورتونه هم پېدا کوي کوم چې مونږ په روزانه ژوند کښې هره ورځ وينو. مارکس سياسي مبارزې له زور ورکول دادب د پاره اهم مقصد ګڼي خو ډېر زور پرې نهٔ اچوي. هغهٔ فن ته په يو نظرياتي انداز کښې ګوري او ارټ ته د معاشرې د طبقاتي رجحاناتو اظهار او د فکري عادتونو ترجماني وائې. هغهٔ د اسکلس، شيکسپئير او ګويټے کارنامو ته دعقلي بصيرت شاعرانه شکل وائي. د هغهٔ په نزد ارټ په يو وخت زمونږ ژوند، عقل او ذهني کېفيتونه ځان پله راړوي. هغهٔ ادب د سماجي او اقتصادي حالاتو د عکاسۍ يوه اهمه وسيله ګڼې. د هغهٔ په خيال تر ټولو غوره ادب هغه ادب دے چې د نظرياتو په لړه کښې پټ ټولنيز حقيقتونه په فکري کچه راښکاره کړي. جمالياتي تخليقونه د غېر انساني ټولنې نه د ازادۍ ارمان راژوندے کوي او تازه ئې ساتي. د غوره ادب دا خصوصيت وي چې جمالياتي تسکين او علمي لذت له تخليقي بنياد نه پېدا کړي کوم چې په سرمايه دارانه ټولنه کښې ممکن نهٔ دے. نن سبا چې د ارټ نه د کاروبار کوم شے جوړ شوے دے او د بازار د اثر د لاندې ئې راغلے دے حالانکې د ارټ تخليق په داسې ازاده فضا کښې کېږي چرته چې دغه اثرات نهٔ

وي په دې حواله اظهر قادري ليکي:

"ادیب اگراپنے فن میں سچااور دیانت دار ہے تو وہ اپنے عہد اور معاشرے کے بنیادی تقاضوں سے کبھی چشم پوشی نہیں کر سکتا۔ اپنے عہد کی ناانصافیوں، معاشی نا برابری، محرومیوں، طبقاتی ناہمواریوں اور استحصالی قوتوں کے خلاف آواز اٹھاناادیب کے فرائض میں داخل ہے۔ ۱۲

د دې تحریک په پېروونو اهمو نومونو کښې "بالزاک" او"فلاوبېر" شامل دي. دوي په دې خبره زور راوړو چې مونږ له د کلاسيکي او رومانوي معيارونو نه سر غړونه پکار ده او په ادب کښې حقيقت هغه رنګ پېش کول پکار دي ځنګه چې هغه ښکاري او خپلې خوښې ته دا موقعه ور نۀ کړو چې هغه د حقيقت څهره بدله کړي. په دغه لړۍ کښې د "ايمائل زولا"نوم اخستل هم ضروري دي. د ادب په اړه "زولا"خپل نظريات داسې بيان کړي دي:

" ناول نویس مشاہدہ اور تجربہ کرتا ہے۔ مشاہدے کے زریعے سے اصلی واقعات تک دسترس حاصل ہوتی ہے جن پر وہ اپنے ناول کو مبنی قرار دیتا ہے پھر تجربہ کرنے والا آتا ہے اور اپنا تجربہ کرتا ہے اس سے میری مراد یہ ہے کہ وہ کسی قصے کے چمن میں کرداروں کو حرکت میں لاتا ہے اور یہ ثابت کرتا ہے کہ واقعات کا نشوونما اسی طرح ہوگا جو قانون جبر کا تقاضہ ہے اور جس کے مطابق تمام فطری واقعات ظہور پزیر ہوتے ہیں۔"۱۳

بالزاک هغه ارتې غوره ګڼې په کوم کښې چې د حقيقي ژوند کوټلے شعور موجود وي. د دې تر څنګ هغۀ د يو جامد تصوير د جوړولو هم په حق کښې نۀ دے هغۀ د بدلېدونکو حالاتو او د يوې معاشرې په بله کښې د ضم کېدو يا د بدلېدو دترجمانۍ هم ملګرے دے. د بالزاک په باره کښې ډاکټر ميترا داسې ليکي:

" د بالزاک د رياليزم اساس پر ټولنيزو حالاتو د وجدان د ستنو ودرول دي. لۀ همدې کبله هغۀ هيڅ کله خپل اتلان دې ته نۀ هڅوي چې د خپل ټولنيز موقعيت يا طبقاتي ګټو پر خلاف څۀ اووائي او يا د پېښو پر وړاندې پرته لۀ هغه څۀ چې د هغۀ د طبقي غوښتنه وي بل څۀ څرګند کړي. ۱۴

په انساني کوميډي (Comedia Human) کښې چې د هغۀ مشهورکتاب دے او زياته برخه ئې د عام ژوند او بازار معاملو ته مخصوص ده او د روپو پېسو ګټلو منډه ئې ښئيلې ده نو هم دغه د هغۀ وخت د ټولنې حقيقي او رشتونے عکس دے. هغۀ خلقو ته پېغام ورکړے دے چې د مرګ نه مۀ وېرېږئ، د بې شرمۍ نه مۀ وريږئ خو د غربت نه وېرېږئ. د

دي سره هغۀ دا ښئيل غواړي چې په دې معاشره کښې د انسانيت او شرافت معيار زر، پيسې او دولت دے.

د بالزاک نه پرته "کورکو ورونړو" او "استاندال" هم د فرانس په حقيقت نګارانو کښې شامل دي. استاندال چې د ناول کوم تعريف کوي نو د هغۀ حقيقت نګارۍ ترې په ښۀ شان څرګندېږي. علي عباس جلالپوري د هغۀ د ناول تعريف داسې ورکړے دے:

"ناول ایک ایسا آئینہ ہے جو شاہراہ پو چلا جا رہا ہو"۱۵

دغه شان په انګلستان کښې "ميريا اجورته" هغه ليکوال ګڼلے شي چې په اول ځل ئې په خپل تخليق کښې د کليوال ژوند حقيقي ترجماني وکړه او د حقيقت نګارۍ په لور ئې قدمونه پورته کړل. د هغۀ نه پس "جان کاوپرپارس" او "مس فيلډ" دغه ميلان جاري وساتو. هم دغه شان د "چارلس ډکنز" په ناولونو کښې هغۀ د هغه دور د بالادستي طبقې د ژوند تکليفونه او غمونه وړاندې کړل او د هغوي د ژوند عکاسي د داب موضوع وګرځېده. "تهيکرے" هم د حاکمانو د ژوند رابرسېره کړو او د هغوي ناوړه عملونه ئې وګړيو ته مخکښې کېښودل. دغه شان "هينرک ايبان" د تهيټر په مېدان کښې هغه وخت بدلون ته لارهه واره کړه کله چې هغۀ په جنسي موضوعاتو ډرامې ليکل وليکلې او د مېنځنۍ طبقې ژوند او د هغوي مسئلې ئې د ډرامې د وسيله اولس ته ښکاره کړې. "جارج برناډ شاه" هم دغه روايت ژوندے وساتو او معاسرتي ډرامې ئې وليکلې. هغۀ د ادب د تصور پولې نورې هم پراخه کړې او د هر علم او هر فن نه ئې د ادب د پاره موضوعات تر لاسه کړل او ادب ئې د يو عظيم مقصد د پاره په کار راوستو.

په روس کښې ټالسټائي، دوستوايفيسکي او ګورکي په خپلو تخليقونو کښې د حقيقت نګارۍ دغه رجحان مخ په وړاندې بوتلو. د دنيا ګڼ شمېر ادب پوهان ټالسټائي د دنيا تر ټولو لوے ناول نګار مني . د هغۀ په ناولونو کښې د هغه وخت د روس د معاشرې د ارتقا هغه سفر په نظر راځي کوم چې د 1861ء نه شروع کېږي او 1915ء تر انقلاب پورې رارسي. هغۀ په فکشن کښې د خواري کښو د ژوند ترجماني وکړه. ټالسټائي دا ښودل چې په سرمايه دارانه نظام کښې چې کوم قسم کار روان دے د هغې په وجه انسان د يو بې رحمه مشين پرزې جوړېږي. هم دغه تقسيم کار دغريبانو د لوټلو لويه وسيله ده. د هغۀ د رياليزم په حقله ډاکټر ميترا داسې ليکي:

" د تولستوي د هنر تومنه هغه مسله ده چې د روسئې د نولسمې پیړۍ تولنې پرې راچورلي او هغه د بزګرانو مسله ده. د تولستوي په اثارو کښې رنځ زپلي او محروم کليوال تل حاضر دي.که دوي په خپله حاضر نهٔ دي نو سيورو ئې د داستان د شخصيتونو پر ذهن لمن غوړولي دي. ۱۶

دوستوایفسکي او ګورکي دغه سلسله روانه ساتلې ده د ګورکي ناولونو کښې هم دغه ښکاره رجحان په نظر راځي اود حقيقت نګارۍ کوټلے شعور په کښې ليدے شي.

په مغربي نړۍ کښې حقيقت نګارۍ اوس خپل مفهوم بدل کړے دے او د جديدې معاشرې لاندې باندې او د دغه لاندې باندې په وجه زېږېدونکې نفسياتي ستونزې په خپله جولۍ کښې ځاے کوي. د حقيقت نګارانو په دغه نوي پلويانو کښې جېمز جوائس،هرمن هيسے، کافکا ، کاميومارکيز، ميلان کنډيرااو نور ليکوالان د يوې نوي زاوئې نه د وګړي ژوند او د هغهٔ چاپېرچل ته ګوري. په نوې فلسفه کښې حقيقت نګارۍ يو شمېر تحريکونه په خپله ځان کښې ځاے کړي دي چې په کښې د تصوريت نه انکار کول مشترک خصوصيت دے. دغه مفکورې اوس هم د څيزونو د معروضي وجود قائله دي خو د دې خبرې نه هم انکار نهٔ کوي چې زمونږ حسونه او عقل د حقيقت په پېژندګلو کښې تېروتے شي او تېروځي. هغوي د حسونو او د عقل د حدودو نه انکار نهٔ کوي.

ډاکټر ميترا د جوائس په اړه داسې ليکي:

" ګوندې د جوائس د هنر يواځيني ريالستي اړخونه هغه دي چې د لوئيديزې نړۍ د ننۍ ټولنو رټل شوي بې لارو او ځپل شويو وګړيو تصويرونه هغه شان انځوروي لکه چې دي. د متوسطې طبقې د روښان فکرو فکري اضطراب او روحي بحرانونه راڅرګندوي. لږ او ډېر د هغه تمدن راپرځېدل احساسوي، چې لرغوني ارزښتونه ئې بائيللي دي. ۱۷

په جديد دور کښې "جارج لوکاچ" حقيقت نګارۍ له د نوي دور مسئلو او معروض سره سم د رنګ ورکولو هڅه کړې ده او مجرد او مجسم ممکنات (Potentialities) ئې په نظر کښې ساتلي دي. دغه شان "وليم ريمونډ" پخپل مضمون (Realism and contemporary Novel)کښې وئيلي دي چې د حقيقت نګارۍ دا دعوىٰ چې هغه د امروزه ژوند رشتونے تصوير دے دومره اسانه نهٔ ده ځکه چې ژوند په خپله يو پېچلے شے دے. هغهٔ حقيقت نګاري په دوه قسمونو کښې تقسيم کړې ده "نفسياتي حقيقت نګاري"

او "سوشلستي حقیقت نګاري". لوکاچ حقیقت نګاري په "سماجي" او "تنقیدي" قسمونه تقسیم کړې ده. په موجوده دور کښې "فرینک" هم د حقیقت نګارۍ د تعریف کولو هڅه کړې ده او د هغهٔ په خیال د نن دور حقیقت نګارۍ ته نوي حقیقت نګاري وئیل پکار دي.

د دې تجزئې نه وروستو دا ثانتېږي چې د ادبي تاریخ په مختلفو دورونو کښې د حقیقت تصور بدل شوے دے. د انساني تهذیب او سماجي ژوند په شاه لید کښې د ژوند مسئلو او حقیقتونو هم خپل صورت بدل کړے دے او چونکې ادب او ژوند د یو بل سره څنګ په څنګ روان دي نو هم د دغه بدلېدونکو حالاتو او تصوراتو په تناظر کښې د حقیقت نګارۍ تعریفونه او مفهوم هم بدل شوي دي. ژوند په خپل اصل صوارت کښې وړاندې کول که د حقیقت نګارۍ تعریف وۀ نو دغه تعریف اوس هغه شان نۀ دے پاتې شوے ځکه څۀ چې ښکاره دي او په نظر راځي د هغې په شا موجود نور عوامل پلټل او لټول حقیقت ته د رسېدو د پاره لازمي دي او ځینې حالات او واقعات خو دومره پېچلې او غوټې غوټې دي چې د هغې د تفهیم د پاره د انسان تاریخ، تهذیب، ثقافت، سیاست، معیشت، مذهب، نفسیاتو او رسمونو، رواجونو تفهیم ترحاصلول ضروري دي او د دغه ټولو د تفهیم په وسیله د ژوند یوه هر اړخیزه نقشه راوړاندې کول په اصل کښې حقیقت نګاري ده. دغه رنګ مونږ دې نتیجې ته رسو چې فقط ژوند او د ژوند پېښښې څنګه چې دي هغه شان وړاندې کول د حقیقت نګارۍ ډېر سطحي او سرسري تصور دے. په حقیقت کښې د هغې وېخ ته کوزېدل، د محرکاتو او عواملو نه پرده پورته کول چې په کښې د بره ذکر شوو ټولو علومو په مرسته د هغې شاه لیده هم تجزیه شي په اصل کښې د حقیقت نګارۍ پوره او صحیح تصور دے. دلته بائید یاد وساتلے شي چې د نن د حقیقت نګارۍ تعریف که د بالزک، ډکنز، ټالسټائي او ګورکي د تعریف نه مکمل بدل نۀ دے نو بېخي هغه شان هم نۀ دے پاتې شوے .د نن ژوند او د نني ژوند حقیقتونه جدا دي او په ادب کښې دغه حقیقتونه د هغوي د محرکاتو، عواملو او سوبونو سره پېش د نن د حقیقت نګارۍ تقاضه ده او بائید چې نني حقیقت نګارۍ ته نوي حقیقت نګاري اووئیلے شي.

د حقیقت نګارۍ خصوصیات:

1 حقیقي او واقعي څیزونه پېش کول او موضوع جوړول.
2 په حقیقتونو بحث کول.

3 د خپل خواوشا مسائل موضوع ګرځول.

4 د روماني ذاتيت نه انحراف کول.

5 غېر شخصي نظر لرل.

6 د مصلحت په ځاے په واقعيت زور اچول.

7 د ماضي په ځاے حال موضوع جوړول.

8 تضاد او تړون په نظر کښې نيول.

9 انسان د يو سماجي موجود په توګه انځورول.

10 هغه احساسات، اندېښنې، رنځونه او خوښۍ انځورول چې عموميت لري.

11 ټولنيزو ستونزو ته نزدې والے او د هغې پر له پسې پېشکش.

12 د واقعيت د تکميل د سفر د لوړو ژورو تجزيه کول او د پټو عواملو راسپړدل.

# Roman References


1. The concise oxford dictionary, Lahore, Oxford press 1964 page 998.
2. The new Encyclopedia Britannica, (Volume 15), USA: University of Chicago, 1997, Page 539.
3. The Encyclopedia of Philosophy, (Volume 7) London. The Macmillan company and the free press, 1967, P. 77
4. Abul Ijaz,Hafeez Sadiqi,(Mratib), Kashaf Tanqidi Istelahat, Islamabad, Muqtadira Qawmi Zaban,1975,p29.
5. WWW. English Upenn. Edu.
6. Andrzej Gasiorek, Post- war British fiction realism and after, London: Edward Arnold, 1995 Page 17
7. Divid Lodge, 20th century Literary criticism, London, Longman House, 1972 Page 581.
8. WWW.brocku.com
9. Niaz Fatih pure,Allama, Inteqadyat,Karachi.Halqa Neyaz wa Negar.1992,p3
10. Mubarak Ali, Dr, Tareekh awar falsafa e Tareekh, Lahore,Fiction House,1992,p127.54,p24
11. Saleem Akhtar, Dr, Theen Baray nafsyat Dan,Lahore,Sang e meel,Publicayions,1994,p5
12. Seep(Mah Nama)Shumara54.p24
13. Wahab Ashrafi, Tarikh e adabyat e alam(jild panjam),Dehli, Educational,Publishing House,2001.p66
14. Lateef Bahand,Dr,Realism aw Zad realism,Shalkot,Shalkot Pakhto Adabi Ghorzang,2015,p55
15. Jalalpuri,ali Abbas,Rooh e Asar,Lahore,Takhliqat,1969.p1211
16. Lateef, Bahand,Dr,Realism aw Zad e Realism,p81
17. Ham Dagha asar,p48
18. Anwar Sadeed,Dr,Urdu Adab ki Tahrekain,Karachi,Anjuman e tarraqi Urdu,1999.p82